د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې
د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه




# د کابل بانک

## قضیې په اړه وروستي معلومات

Ketabton.com

وری ۱۳۹۷

کابل-افغانستان

/MEC_Afghanistan

www.mec.af

/mec.afghanistan

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ملي يووالي حکومت د رامنځته کيدو راهيسې د کابل بانک قضيې پرمختګ

په ۲۰۱۰ کال کې د درغلۍ او اختلاس له امله د هيواد د تر ټولو لوی بانک ړنګيدل د افغانستان مالي ثبات له ګواښ سره مخ کړ. د دې لپاره چې په ياد بانک کې د پيريدونکو شتمنۍ او سپارل شوې پيسې خوندي شي او د هيواد په نوي تاسيس شوي مالي سکتور کې له نورو لويو کړکيچونو څخه مخنيوی وشي، د افغانستان دولت اړ شو چې لاس په کار شي او د مرکزي بانک له زېرمو څخه ۸۲۵ ميليونه امريکايي ډالر ياد بانک ته ورکړي. په پايله کې د نړيوالو فشارونو له امله، په ځانګړې توګه د پيسو د نړيوال وجهي صندوق (IMF) د فشار له کبله، د اداري فساد په وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکې ګډې کميټې (MEC) ته د افغانستان حکومت له خوا ماموريت وسپارل شو چې د کابل بانک کړکيچ په هکله يوه عامه پلټنه ترسره کړي. د يادې پلټنې کار بايد د کابل بانک د فعاليت له پيل څخه د ياد بانک د کړنو له ارزونې پيل او وروسته بيا د بانک د ونډه والو فعاليتونه، د څارنيزو او پلټونکو ادارو ونډه او همدارنګه د يادې قضيې اړوند جرمونو ته د رسيدنې په برخه کې د دولت او عدلي او قضايي سيستم د کړنو او اجراآتو د اغيزمنتيا په ارزولو بشپړه شوې وای. ١له دې امله، د څارنې او ارزونې کميټې پرته له ځنډ څخه په دې برخه کې يوه پراخه عامه پلټنه ترسره کړه او د پلټنې د موندنو راپور يې د ۱۳۹۱ کال د چنګاښ په مياشت کې خپور کړ.

د کابل بانک د کړکيچ په هکله د څارنې او ارزونې کميټې د عامه پلټنې راپور (http://www.mec.af/files/knpir-final.pdf)، لومړنی عامه سند و چې د کابل بانک د پخوانيو ونډه والو له پيچلو پلانونو او دسيسو، د دوی له سياسي اړيکو، او په درغلۍ کې د بانک د مفتشينو او همدارنګه بانک د څارنيزو او تنظيم کونکو مسوولينو او چارواکو له ونډې پرده پورته کړه.

د هغو کسانو په کړۍ کې چې د هيواد د تر ټولو لوی مالي بنسټ په سيستماتيکه غلا کې ښکيل وو، ملي سوداګر، نړيوال کارپوهان چې په پيچلې بڼه يې د اسنادو په جعل او د حقايقو په پټولو کې مرسته کړې وه، سياستوال، زورواکان او د پخواني ولسمشر او د نوموړي د مرستيال د کورنيو غړي هم شامل وو.

د ملي يووالي حکومت د لوړې د مراسمو څخه لنډه موده پس، د څارنې او ارزونې کميټې د ۱۳۹۳ کال د تلې په لسمه نيټه د کابل بانک د پلټنې په تړاو يو تعقيبي راپور خپور کړ، ترڅو د ملي يووالي حکومت دواړو مشرانو ته هغه ژمنې ور په ياد کړي چې د ټاکنيزو کمپاينونو په مهال يې د کابل بانک د قضيې د هوارۍ لپاره کړې وې. (http://www.mec.af/files/۲۰۱٤_۱۰_۰۲_Kabul_Bank_Follow-Up_Report.pdf).

په دې تعقيبي راپور کې د څارنې او ارزونې کميټې د حامد کرزي د ولسمشرۍ په مهال د ابتدائيه محکمې د هغه حکم په اړه انتقادي تحليل وړاندې کړی چې پرته له دې نه چې مجرمينو ته پوره جزا ورکړي صادر شوی و.

---

[1] د ماليې د وزارت رسمي ليک، د ۱۳۹۱ غبرګولي دويمه نيټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخواني حکومت هم  د غلا شویو شتمنیو د بیا ترلاسه کولو او د نوي کابل بانک د قضیې د حل په موخه، چې د یاد کړکیچ وروسته د وخت د دولتونو تر کنټرول لاندې راغی، کوم جدي ګام وانخیست.

د څارنې  او ارزونې کمیټه  د کابل بانک قضیه له نږدې څاري او په دې راپور کې د ملي یووالي حکومت له رامنځته کیدو وروسته د یادې قضیې په هکله د وروستیو پرمختګونو په تړاو معلومات  وړاندې کیږي.

نوي حکومت د یاد کرکیچ په غندلو او په دې برخه کې د پلټنې په پیلولو کې ډېر چټک عمل وکړ. ولسمشر غني د خپلې دورې په دویمه کاري ورځ د ۱۳۹۳ کال د دریمه ګڼه فرمان په ترڅ کې د یادې قضیې د بیا پرانیستلو امر وکړ. د دې فرمان په بنسټ لویې څارنوالۍ ته د ښکیلو کسانو د نیولو  او د اتهام لیک د ترتیبولو هدایت ورکړل شو  او  نورو ادارو او بنسټونو ته یې  د متهمینو د شتمنیو د تشخیص او کنګل کولو له لارې د غلا شویو عامه شتمنیو په ستنولو کې د بشپړ ملاتړ او همکارۍ امر وکړ. د بهرنیو چارو وزارت ته هم هدایت ورکړل شو چې د ډیپلوماتیکو لارو چارو له لارې له افغانستان څخه بهر د یادو شتمنیو په بیرته ترلاسه کولو کې مرسته وکړي او د مالیې وزارت ته دنده ورکړل شوه چې په لسو ورځو کې د نوي کابل بانک د خصوصي کولو پلان طرحه کړي.

خو د ولسمشر د دریمه ګڼه فرمان له صدور څخه درې کاله وروسته په دې برخه کې کوم پرمختګونه شوي دي؟ د ملي یووالي حکومت وایي چې د تعقیب لړۍ بریالۍ وه، «موږ د کابل بانک قضیې دوه اصلي مجرمین بندیان کړل او... ۲۵۰ میلیونه ډالر مو بیرته  ترلاسه کړل.» (ولسمشر غني د ۱۳۹۵ کال د غوایي د میاشتې په ۲۶مه). خو په اصل کې د  لومړنیو هڅو له پیل وروسته په دې برخه کې ډېر لږ پرمختګ شوی دی. د څارنې او ارزونې کمیټې د بیرته تر لاسه شویو پیسو د رسمي سندونو د  ارزونې په بنسټ، د ۱۳۹۳ کال د تلې له میاشتې  وروسته، یوازې **۳۲.۷** میلیونه ډالر شخصي پورونه  په نغدي ډول ترلاسه شوي او همدارنګه له نورو پوروړو سره د **۳۰.۹** میلیونه ډالرو د بیرته ورکولو هوکړه لیکونه لاسلیک شوي دي. د څارنې او ارزونې کمیټه د ولسمشر د فرمان د دریو اصلي برخو په تړاو خپل معلومات په لاندې ډول وړاندې کوي.


## د شتمنیو ستنول

د شتمنیو د ستنولو بهیر د تسریع او ګړندي کولو او د سترې محکمې د حکم پلي کولو په موخه، د تاسیس څخه لږه موده وروسته، د ملي یووالی حکومت، د لویې څارنوالۍ، مرکزي بانک او د کابل بانک د تصفیې مدیریت په غړیتوب د کابل بانک د قضیې د څیړلو کمیسیون تاسیس کړ.

"تشویقي کړنلاره" چې د کابل بانک د قضیې د څیړلو کمیسیون له خوا  د پورونو د ترلاسه کولو د لړۍ د تسریع او چټکتیا په موخه د ۲۰۱۵ کال په فبروري میاشت کې تدوین او د کابینې لخوا منظوره شوه، د پام وړ اغیزمنتیا نه درلوده. لاندینی چارټ د ملي یووالي حکومت د رامنځته کیدو راهیسې د کابل بانک د غلا شویو شتمنیو د بیا ستنولو وضعیت ښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






څرنګه چې پاسني چارټ کې لیدل کیږي، د ۱۳۹۳ کال راهیسې یواځې **۶۳.۶** میلیونه ډالر بیا ستنول شوي دي. له دې جملې، **۳۲.۷** میلیونه ډالر په نقدي ډول او پاتې **۳۰.۹** میلیونه ډالره یې د پوروړو سره د بیا ستنولو د تړونونو په ترڅ کې مقاوله شوي دي. له بله پلوه، **۱۴.۳** میلیونه ډالره د تشویقي کړنلارې په بنسټ په معاف شوې تکتانه کې شامليږي.[۲]


څرنګه چې په لاندني چارټ کې لیدل کیږي، د ۱۳۹۷ کال د وري میاشتې او د ۱۳۹۳ کال د تلې د میاشتو ترمنځ د شتمنیو د ستنولو وضعیت پرتله ښیي چې د اختلاس شویو پیسو د پام وړ برخه، یعني ۵۳۹ میلیونه ډالره لا تر اوسه نه دي ترلاسه شوې.

---

[۲] تشویقي کړنلارې په بنسټ، د هر پوروړي پاتې پورونه په تکتانه کې د ۳.۵ سلنې تخفیف سره محاسبه کیږي، که چیرې پوروړی خپل ۲۰ سلنه پور په نغدي توګه ادا کړي، د پاتې ۸۰ سلنې پور د ورکړې لپاره تضمین وړاندې کړي او د کابل بانک د تصفیې مدیریت سره د بیا ستنولو تړون لاسلیک کړي. که چیرې پوروړی وغواړي چې خپل ټول پور په نغدي توګه یو ځل ورکړي، د تکتانې کچه ۰.۵ ته ښکته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






د تشویقي کرنلارې اصلي موخه دا وه چې د ټکټیانې د نرخ په کمولو سره د کابل بانک پوروړي وهڅول شي چې خپل هغه (نا قانونه) پورونه چې له کابل بانک څخه یې اخیستي دي په وخت سره ادا کړي. په دې برخه کې یوازې ۳۱ تنو پوروړو د کابل بانک د تصفیې مدیریت سره په اقساطو کې د پورونو د ورکړې تړونونه لاسلیک کړل، په داسې حال کې چې د نوموړي بانک ډیری سترو پوروړو او پخوانیو ونډه والو د یادې تشویقي کرنلارې څخه هیڅ ډول ګټه وانخیسته. د ۱۳۹۷ کال د ورې میاشتې راهیسې، هغه ۳۱ تنه پوروړو چې د کابل بانک د تصفیې مدیریت سره یې په اقساطو کې د پورونو د ورکړې تړونونه لاسلیک کړي وو، ډیری یې د ټاکلي مهال ویش سره سم خپل پورونه نه ادا کوي. په دې برخه کې د کابل بانک د تصفیې مدیریت له خوا تر اوسه پورې کوم کوټلی ګام نه دی اوچت شوی.

تشویقي کرنلارې د کابل بانک اجراییه رییس او پخواني ونډه وال ته لاره هواره کړه چې له بنده خوشي شي، خپل کاروبار له سره پیل کړي او آن له حکومت سره یو ودانیز(ساختماني) تړون هم لاسلیک کړي. د یادې ودانیزې پروژې د پرانیستې مراسم چې "هوشمند ښارګوټی" نومول شوې وه، د هیواد یو شمیر ټلویزیوني چینلونو له خوا خپاره شول؛ د یادو مراسمو په مهال د کابل بانک قضیې اصلي عامل ته اصلاحاتو او ښې حکومتوالی په برخه کې د ولسمشر د ځانګړې استازي له خوا تود هرکلی وویل شو او د ولسمشر د هغه وخت حقوقي سلاکار له حکومت سره دغه تړون وستایلو. په دې برخه کې دا یوه ستره ناکامي وه. که څه هم چې د هوشمند ښارګوټي پروژې تړون د ولسمشر له خوا وروسته لغوه شو او د کابل بانک پخوانی اجراییه رییس او ونډه وال بیرته زنداني شو، خو دې کار د ملي یووالي حکومت شهرت او اعتبار ته سخت زیان ورساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جزايي اجراآت

لکه څرنګه چې مخکې يادونه وشوه، په دې برخه کې د ولسمشر د فرمان دويمه برخه د يادې قضيې د اصلي عاملينو پر محاکمه کولو ټينګار کوي. په دې برخه کې لومړنۍ برياوې له نا هيلۍ سره مل وې. د ۱۳۹۳ کال د لړم په مياشت کې د کابل ولايت استيناف محکمې د کابل بانک قضيې په باب خپل حکم صادر کړ او د يادې قضيې دوه اصلي متهمين، دواړه ونډه وال او د بانک مديران يې د اختلاس په تور په ۱۰ کلونو بند او د پيسو مينځلو په تور په ۵ کلونو اضافي بند محکوم کړل. [۳] په ورته وخت کې، د کابل بانک او د افغانستان بانک ۹ پخواني کارکونکي د سپکو جريمو په ورکړې او تر يو کال بند، محکوم شول. همدارنګه محکمې حکم وکړ چې د هغو ۱۲ کسانو او ۸ شرکتونو شتمنۍ، چې د کابل بانک د شتمنيو په اختلاس کې يې فعاله ونډه درلوده، دې تر هغه مهاله چې خپل پورونه يې نه دي ادا کړي، کنګل او ضبط شي. سر بيره پر دې، محکمې د کابل بانک د مديره پلاوي او سلاکارانو د هغې ۱۵ کسيزه ډلې د پلټنې حکم وکړ چې د استيناف محکمې په ناسته کې حاضر نه وو. د استيناف محکمې حکم د سترې محکمې له خوا وروسته له ځينو تعديلاتو، د ۱۳۹۳ کال د ليندۍ په مياشت کې تاييد شو.

د څارنې او ارزونې کميټې د محکمې د حکم، د حکم د پلي کيدو او همدارنګه په يادې قضيه کې د ښکيلو کسانو د احتمالي بښنې په تړاو ځينې انديښنې درلودې. د بيلګې په توګه، هغه دولس کسان چې د محکمې په اند د کابل بانک د شتمنيو په اختلاس کې يې فعاله ونډه درلوده، د اختلاس او پيسو مينځلو په تور په جزا محکوم نشول. سر بيره پر دې، په يادو دولسو کسانو کې د پخواني ولسمشر او د ولسمشر د مرستيال ورونه شامل وو چې دواړه د کابل بانک ونډه وال وو او د خپل شخصي کاروبار او تجارت په مخ بيولو لپاره يې د ياد بانک څخه شخصي پورونه اخيستي وو. د دې تر څنګ، ياد حکم په مشخصه او څرګنده توګه د ګرمو کسانو د شتمنيو په مصادرې او ضبط حکم نه و کړی. پر ځای يې، يواځې د شتمنيو په تشخيص او کنګل کولو بسنه کړې وه. دا کار په ځانګړې توګه نورو بنسټونو او ادارو ته په دې برخه کې د نړيوالو همکاريو په غوښتنه کې ستونزې راولاړوي.

هيڅ اداره او بنسټ د خپلو مسووليتونو او د هغو کوټلو ګامونو په هکله چې د حکم د پلي کولو په موخه يې بايد واخلي، خبر نه و. د کورنيو چارو وزارت د انټرپول پوليسو ادارې، د تورنو کسانو د نيولو او پلټنو په تړاو تر اوسه پورې د نړيوالو مرستو غوښتنه نه ده کړې.

د کابل بانک د تصفيې مديريت، د افغانستان په استازيتوب په دبۍ ښار کې په هغې محکمې کې چې د کابل بانک د اجراييوي رييس او ونډه وال د شتمنيو د ګنګلولو او پلورلو په موخه په لاره اچول شوې وه، ګډون وکړ. که څه هم چې وروسته له دوو کلونو دا په ډاګه شوه چې د متحده عرب اماراتو او افغانستان ترمنځ د ۲۰۰۹ ميلادي کال د همکارۍ د دوه اړخيز هوکړه ليک په بنسټ په دې برخه کې د افغانستان له لوري مسووله اداره، د عدليې وزارت دی. په پايله کې، افغانستان په دبۍ کې د شتمنيو د ستنولو په تړاو قضيه وبايلله.

---

[۳] بشپړه جزا لس کاله ده ځکه چې د افغانستان د قانون په بنسټ تر ټولو شديده جزا ورکول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر بیره پر دې، د کابل بانک پوروړي او هغه کسان "چې د کابل بانک د شتمنیو په اختلاس کې یې فعاله ونډه درلوده[٤] " ورو ورو هڅه کوي چې د محکمې په حکم سترګې پټې کړي او له دې نه چې د کابل بانک څخه پوروړي دي انکار وکړي او یا هم هڅه کوي چې د خپلو پورونو د مقدار په اړه له سره مذاکره وکړي. په یوه مورد کې، سترې محکمې (د نامالومو دلایلو پر بنسټ) د یوه پوروړي د قضیې د بیا پرانیستلو اجازه ورکړه چې ځان یې د هغه شرکت ونډه وال نه باله چې د کابل بانک څخه ۲۱ میلیونه ډالر پوروړی و، او داسې یې انګیرله چې د یاد پور د بیا ورکړې مسوول نه دی. یاده قضیه د کابل بانک د ځانګړې محکمې له خوا په مخ یوړول شوه او محکمې هم د پوروړي په ګټه فیصله وکړه.

دې کار د کابل بانک نور ونډه وال او پوروړي وهڅول چې د خپلو پورونو څخه انکار وکړي او د پورونو محاسبه شوی مقدار تر پوښتنې لاندې راولي.

## د نوي کابل بانک خصوصي کول

د نوي کابل بانک خصوصي کولو لړۍ چې د ولسمشر د فرمان دریم رکن ګڼل کیږي، ډیره ورو او ټکنۍ روانه ده او تر اوسه پورې څو ځلې له سره پیل شوې ده. د کابل بانک قضیې د هوارۍ په موخه د مالیې وزارت تر اوسه څو طرحې لکه د کابل بانک انحلال، د دوه دولتي بانکونو (پښتني بانک یا د افغان ملي بانک) سره د هغه یوځای کول، او یا هم د کابل بانک خصوصي کول، وړاندې کړې دي. خو له یادو طرحو څخه یوه یې هم عملي او د پلي کیدو وړ ثابتې نه شوې او بانک د څو کلونو راهیسي په تاوان کې روان دی.

خصوصي سکتور باندې د نوي کابل بانک د خرڅلاو په موخه د دریو ناکامه هڅو وروسته، حکومت پریکړه وکړه چې په یاد بانک کې د ۱۰۶ میلیونه ډالرو په بیا پانګونې سره یاد بانک د اوس لپاره د یوه دولتي شرکت په توګه وساتي.

نړیوال بانک د افغانستان د بانکدارۍ د سکتور د ارزونې وروسته، "د دولتي بانکونو د عصري کولو تګلاره" تدوین او د تصویب لپاره یې د اقتصاد عالي شورا ته واستوله. یاده تګلاره د افغانستان ملي بانک سره د نوي کابل بانک د یوځای کولو سپارښتنه کوي. نوموړې تګلاره د اقتصاد عالي شورا له خوا تصویب شوې ده او د مالیې وزارت په دې برخه کې یو ټیم ګمارلی دی ترڅو د نړیوال بانک په مرستې سره د یادې تګلارې د پلي کیدو لپاره یو عملیاتي پلان جوړ کړي.

په ټوله کې د کابل بانک کړکیچ د افغانستان په معاصر تاریخ کې له شرمه ډکه پیښه ګڼل کیږي. د ملي ادارو او بسنټونو ترمنځ نه همغږي او د ښکیلو ادارو په کړنو کې د روښوالی نه شتون، د دې لامل شوی چې د شتمنیو د بیا ترلاسه کولو لړۍ ټکنۍ شي. د هغو تورنو کسانو عدلي او قضایي پلټنه چې بهرنیو هیوادونو ته تښتیدلي دي او

٤ د سترې محکمې فیصله، د ۱۳۹۳ کال لیندۍ میاشت

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې برخه کې د نړیوالې مرستې غوښتنه تر اوسه د ځینو نا معلومو لاملونو له امله ترسره شوې نه ده. د څارنې او ارزونې کمیټه د نوموړي بانک د شتمنیو د بیا ترلاسه کولو لړۍ او همدارنګه د نوي کابل بانک د خرڅلاو بهیر له نږدې څاري او په دې برخه کې له ټولو اړوندو او ښکیلو لورو د پوره روښتیا او شفافیت تمه لري.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**